مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست ۲۰۲۶/۰۴/۱۷

هجران‌ځپلی میلمه بېرته کورته راغي

دا مې لومړی ځل و چې مشاعرې ته تللی وم. هغه هم پېښور کې. په غالب ګومان اردو ساینس بورډ کې جوړه شوې وه. دلته د سړک تر غاړې دوه پوړیزه ودانۍ وه. خواته سړک یې، کچرو خوا ته تللی و او بل خیبر بازار ته.
ستیج چلوونکي چې به هر څوک رابللو؛ نو په نوم اوریدلو یې خوشالیدم؛ ځکه له نومونو سره یې د کتابونو، مجلو او اخبارونو له لارې آشنا وم؛ خو لیدلي مې نه ول.
یو څوک ستیج ته د شعر لپاره راوغوښتل شو. اوږد شعر یې ووایه؛ خو زما حافظې یې فقط همدا یو بیت له کابو ۳۵ کلونو راهیسې خوندي کړی .
بیت و:
میلمه وي، یو، دوه، درې، څلور، پنځه ورځې بیا لاړ شي
خو تېر یې کړل کلونه چې هجران زما میلمه شو
دا هجران ځپلی، لوی محقق او مشهور لیکوال حبیب الله رفیع و.
دا ستره هستي مې بیا کابل کې له نږدې ولیده.
رفیع صیب یو ځل بیا د هجران بادونو پسې واخیست او په کانادا یې وسپاره.
اوس، خبر دی چې بیرته یې د خپل وطن غیږې ته د راستنېدو نیت کړی دی.
هیله ده، په ښه درانه پروتوکول یې هرکلی وشي.
دغسې لویې هستۍ زموږ غوندې د محرومو په ژبو کې ډېرې کمې په نصیب کیږي.
رب دې تر ډېره ژوندی او سلامت لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ